مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۴/۱۲

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## ۳۳مه‌برخه

### لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

### ۳۷۱مه برخه

«د لنډیو اصلي منابع خلک دي» په ۳۲مه برخه کې د «سروکۍ یا نیمه‌کۍ» په باب معلومات وړاندې شول؛ اوس به د ګڼو بېلګو په وړاندې کولو سره وګورو چې «سروکۍ ـ نیمه‌کۍ» او لنډۍ څنګه یو د بل متمم دي.

ما بنایسته ډېر وخت د هغو سندرغاړو د ویدیو کلیپونو په لیدلو تېر کړ چې هغوی لنډۍ د «سروکۍ یا نیمه‌کۍ» په ملتیا سره خپلو مخاطبینو او مینه‌والو ته وړاندې کړې دي. دلته که له یوې خوا زما موخه د نویو لنډیو خوندي کول و، له بلې خوا مې دا مقصد هم و چې ګڼشمېر «سروکۍ یا نیمه‌کۍ» هم دلته راخوندي کړم.

د دې خبرې یادول اړین ګڼم چې «سروکي یا نیمکۍ» چې څه ډول ما د سندرغاړو له خولې اورېدلي دي، په هماغې بڼې مې ثبت کړي دي، کېدای شي هغوی یې بندونه وړاندې وروسته ویلي وي او یا یې بدلون په کې راوستی وي.

زما د کار سیستم داسې دی چې له هغو ویدیو کلیپونو څخه چې ما دا «سروکۍ ـ نیمه‌کۍ» او لنډۍ راه خوندي کړې دي، د استناد لپاره مې د ټولو ویدیوکلیپونو لینکونه هم دلته ایښې دي. دا لاندې یې څو بېلګې دي:

داسې یو «سروکۍ» مې هم واورېده، چې ما ته بیخي نوی و. په ویدیو کې همدا یو سروکۍ و لنډۍ یې نه وې وراچولې او ما اړینه وګڼله چې همدا یو سروکۍ هم راخوندي کړم:

۱:

واورې اوچتې شوې له غَرهَ
اوس راشه مسافره
چې سیل له لاړ شو

دا یې لینک دی:
https://www.facebook.com/reel/1595072568193783


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

:۲

دا هم یوبل داسي سروکی چي په یوه ویدیو کي یوازي سروکی زمزمه شوی دی، خو مخکي له دي چي لنډي ورواچول شي، ویدیو خلاصېږي. څنګه چي دا سروکی بیخي ما ته نوی دی، ځکه مي دلته راخوندي کړ:

د مازدیګر سیوري تازه شول پر یو غاړه
لیونی بیا ګودر ته لاړه

په ویدیو کي یو تن په مزه سروکی زمزمه کوي او څو تنه نور یې په کورس یا ډلهایزه بڼه پسي تکراروي. ویدیو پنځهلسثانیې ده او دا لاندي یې لینک دی:
https://www.facebook.com/reel/2351114525331065

:۳

کمیس مي زوړ دی، نور پري نهخیژي ګلونه
ماله بل وکه،
یا راله بخمل وکه جانانه

پټ به په زړه غمونه تېرکړم
ماله بل وکه،
یا راله بخمل وکه جانانه، بیا راله بخمل وکه جانانه

بېدردهیار ته به ونهوایم حالونه
ماله بل وکه،
یا راله بخمل وکه جانانه،

کمیس مي زوړ دی، نور پري نهخیژي ګلونه
ماله بل وکه،
یا راله بخمل وکه جانانه

چي عمرډېرشي، صبرډېرشي
ماله بل وکه،
یا راله بخمل وکه جانانه، بیا راله بخمل وکه جانانه

په جدایی کي یي زه لابېصبره شومه
ماله بل وکه،
یا راله بخمل وکه جانانه،
کمیس مي زوړ دی، نور پري نهخیژي ګلونه
ماله بل وکه،
یا راله بخمل وکه جانانه

څه لیونیمینه دې راکړه
ماله بل وکه،
یا راله بخمل وکه جانانه، بیا راله بخمل وکه جانانه،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

څه لیونی دې پەکوڅو کې پرېښودمه
ماله بل وکه،
یا راله بخمل وکه جانانه،
کمیس مې زوړ دی، نور پرې نه کېږي ډولونه
ماله بل وکه،
یا راله بخمل وکه جانانه

زما د سترګو نظر نه‌شته
ماله بل وکه،
یا راله بخمل وکه جانانه، بیا راله بخمل وکه جانانه،

امسا په لاس به د جانان دیدن ته ځمه
ماله بل وکه،
یا راله بخمل وکه جانانه، بیا راله بخمل وکه جانانه،
کمیس مې زوړ دی، نور پرې نه کېږي ډولونه
ماله بل وکه،
بیا راله بخمل وکه جانانه، بیا راله بخمل وکه جانانه

په دې ویډیو کې هم پرته له موسیقۍ نه د ترنم په ډول یو «سروکی» او ورپسې لنډۍ زمزمه کېږي.
له ویډیو سره یو عکس اپښودل شوی دی چې په څنګ کې یې د ترنمکونکي نوم تائید افغان لیکل شوی دی:




ما پاسنۍ لنډۍ ورنه راخیلې کړې، دا لاندې یې او لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/24532125269742061

**:۴**

دا ځل مې یوه بله خوندوره ویډیو پیدا کړله چې یوځوان په زړەوړونکي غږ کې لومړی یوسروکی وایي او بیا جالبې لنډۍ وراچوي، لومړی د سندرې «سروکی» او بیا څو لنډۍ:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

غم دې را پهسر که
پېغورونه وي، تا پې تول كلي خبركه
غم دې را پهسر که

چې شاهولي تبلو ته ناست وي
د ... جان سره رباب مزه کوينه
غم دې را پهسر که

خلک به وايي چې ويده دی
ما به د يار له غمه ځان وژلی‌وينه
غم دې را پهسر که
پېغورونه وي، تا پې تول كلي خبركه
غم دې را پهسر که
دا لاندې يې لينک دی:
https://www.facebook.com/reel/1479725566625191

**:۵**

اناراباغ يې جوړاوه، ولاړه وه
بنګي جانان يې تېراوه، لهخوبه ومه

يو وارې راغی خوله مې ورکړه
لار يې سيځکړه په غضب ککړهشومه
اناراباغ يې جوړاوه، ولاړه وه
بنګي جانان يې تېراوه، لهخوبه ومه

ډېرهموده وشوه ملګرو
له سالمخان سره مې وشول ديدنونه
اناراباغ يې جوړاوه، ولاړه وه
بنګي جانان يې تېراوه، لهخوبه ومه

که حقيقت راباندې وايې
د دې محفل کسان تمام ګلونهدينه
اناراباغ يې جوړاوه، ولاړه وه
بنګي جانان يې تېراوه، لهخوبه ومه

لاړ د ځوانی دوران مې تېرشو
ما به له ډېره کبره چا ته نهکاتنه
اناراباغ يې جوړاوه، ولاړه وه
بنګي جانان يې تېراوه، لهخوبه ومه

په خوب ويده به دې راويښکړم
ياره زما د لاس بنګړي راغلي‌وينه
اناراباغ يې جوړاوه، ولاړه وه
بنګي جانان يې تېراوه، لهخوبه ومه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

په لاندې لینک کې د شفیع او شمس په غږ کې شپږ دقیقې او درې ثانیې ویډیو ده او ما پاسنۍ لنډۍ ورنه راخوښې کړې:

https://www.facebook.com/reel/1436529841372561

**:۶**

یوځل داسې یوه ویډیو په مخه راغله چې له شفیع‌الله سره یو بل د ښه غږلرونکی سندرغاړی چې شمس نومېږي، د ځوانانو په یوه محفل کې سره ناست دي، په وارسره د یوه «سروکی» په ملتیا ښې د خوند لنډۍ اچوي. «سروکی» داسې دی:

تورلونګ دانې ـ دانې
ځار اوبه‌يي راوړې
په شملو مئینه ډېر مې یادېدې
تورلونګ دانې ـ دانې

غماز دې خپله غمازي کړي
یار يې جدا کړ نور يې څه پروا راځينه
ځار اوبه‌يي راوړې
په شملو مئینه ډېر مې یادېدې
تورلونګ دانې ـ دانې

که ستا یاري مې، یاري نه‌کړه
دوکان وازکړم، کورکمن به خرڅومه
ځار اوبه‌يي راوړې
په شملو مئینه ډېر مې یادېدې
تورلونګ دانې ـ دانې

دا يې لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/1532091947600287

**:۷**

سبا ده ګلې،
په کټ کې ځای راکه یخنې نیولی یمه
ګرانې سبا ده
برخه چې خواره ازلي وي
غمونه يې مل وي، در په در تکرې خورینه
سبا ده ګلې،
په کټ کې ځای راکه یخنې نیولی یمه
ګرانې سبا ده

په ژړا مه راپسې ژاړه
په ښه دوعا مې یادوه مسافرشومه
سبا ده ګلې،
په کټ کې ځای راکه یخنې نیولی یمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

گراني سبا ده

دا د عبدالله مقري يوه ويډيو ده، درې دقيقې او يوپنځوس ثانيې اوږده ده چې لومړی «سروکی» ويل کېږي او بيا وروسته لنډۍ په کې اچول کېږي. ما هم سر راخوندي کړ او هم مې څو لنډۍ ورنه راخپلې کړلې. دا يې لينک دی:
https://www.facebook.com/reel/1431879838005344

:۸

په دې نوې ويډيو کې بيا شمس او شفيع‌الله بيا سره يوځای شوي، غبرګې سندرې وايي، لومړی «سر» او بيا لنډۍ وراچوي. ويډيو څلوردقيقې او پنځه‌لس‌ثانيې ده، دالاندې لنډۍ او سروکی ما ورنه راخوندي کړي. تر لنډيو لاندې مې د ويډيو لينک ايښی دی:

راروانه ده
ځنګـله مې راځي
دا جلکۍ شماله ده
خواله مې راځي

کميس د تي پرسر سوری دی
لکه مرز سر له پخسي نه وباسينه
راروانه ده
ځنګـله مې راځي
دا جلکۍ شماله ده
خواله مې راځي

کميس د تي پرسر سوری دی
مخصد يې دا دی هلکـجان پې زوروينه
راروانه ده
ځنګـله مې راځي
دا جلکۍ شماله ده
خواله مې راځي

هلکه روغ به ليونی شي
که د څلوروسترګو جنګ دې وليدنه
راروانه ده
ځنګـله مې راځي
دا جلکۍ شماله ده
خواله مې راځي
https://www.facebook.com/reel/2289461628197011

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ